


دیزاین: الحاج سلیم عابد پیمان سویدن

# استاد محمد سعید
# «سعید افغانی»

Ketabton.com

۱۳۹۷

لیکنه

انجنیرعبدالقادر«مسعود»

او انجینر سرور « صالح »

www.masjed.se

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# لنډ یادداشت او یادونه:

زما پلار خدایبخښلی دکتور محمد سعید «سعید افغاني» د (1363 ) لمریزکال دحوت په اومه نیټه یا پر « 1985 » زیږدیزابدي دنیا ته رحلت وکړ او وفات شو.
**انا لله و انا الیه راجعون**. الله تعالی دی غریق رحمت او جنت فردوس ورته په نصیب کړي. آمین.
دغه وړه رساله چې تاسي اوس په لاس کې لرئ د هغه د وفات د ۲۵ تلین په مناسبت په 2012 کال د معززو ورونوهریو محترم انجینر عبد القادر « مسعود » او محترم انجینر سرور « صالح » لخوا لیکله شوی ، دادی دیو تعداد دوستانو د غوښتني پر اساس هماغه رساله له سره چاپ او نشر ته سپارو. مننه

امین الدین « سعیدی – سعید افغانی »

جولای 2018

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# استاد محمد سعید«سعید افغاني»

# د پیاوړي قلم خاوند!

**انجنیر عبدالقادرمسعود:**

الحاج استاد دوکتورمحمد سعید«سعید افغاني » د پوهې، علم او ادب د پیاوړي قلم خاوند د روان کال 2012 د فبروري 25 نیټه د استاد «سعید افغاني » دوفات اوه ویشتمه کلیزه ده ( د وفات نیټه (1363 ) لمریزکال دحوت په اومه نیټه یا پر 1985 زیږدیز .).
زه د داسې یو نامتو عالم او تکړه لیکوال په اړه څو کرښې لیکم، چې دهغه دروند نوم نه یوازې زمونږ په هیواد کې، بلکې په نورو هیوادونو کې هم د یو مخور استاد، علمي، روحاني او ملي شخصیت په توګه خپل ځانګړې ځای او مقام لري.
زموږ په ټولنه کې زیاتره خلک د نومیالیو، وتلیو او میړنیو څېرو کارنامې او ویاړنې هغه وخت ستایي او نمانځي، چې هغوی په دې دنیا کې نه وي.
دا هم ډېره ښه خبره ده، چې مونږ د دوی یاد او کارنامې په خپلو زړونو او افکارو کې ژوندی وساتو، خو که په ژوند کې هم د هغو پر آثارو، علمي او څېړنیزو کره کتنو، سمینارونه، کنفرانسونه، غونډې جوړې کړو او دوی یاد کړو، دا به د اوسنیو او راتلونکو ځوانو نسلونو د دیني، علمي، ملي، ادبي او فرهنګي ودې او پرمختګ لپاره کارنده او ژور اغیز ولري.
اروابناد استاد دوکتورمحمدسعید «سعید افغاني» څو اړخیز شخصیت لري، ده نه یوازې زموږ دهیواد د دیني او مذهبي علومو ډیوې بلې ساتلې وې، بلکې دیو محقق، مولف، څېړونکي، تاریخ پوه، سیاست پوه او ټولنیز پوه په توګه ډېر مشهور شوې هم وو.
اروابناد استاد دوکتور محمدسعید«سعید افغاني» د اروابنادموالنا عبدالمجید « ساپي» زوی وو، چې پر (1300) لمریز یا (1922) زیږدیز کال کې دلغمان ولایت د عمرزیو د خیرآباد په کلي کې په یوه درنه او روحاني کورنۍ کې زیږدلی دی.
د ده پلار اروابناد عبدالمجید« ساپی» په خپل وخت کې د نامتو علماوو، مشایخو او مدرسو له ډلې څخه وو، چې ډېرو زیاتو دیني عالمانوخپلې زده کړې د ده په لاربنونې تر لاسه کړې دي.
استاد سعید افغاني صاحب د تفسیر، حدیث، د فقهي اصول، فلسفه، منطق، بدیع، بیان، معاني، تجوید، صرف او د شرح جامی علومو زده کړې، هم له خپل پلار او یو شمیر نورو عالمانو په لاربنوونې سرته رسولې دي.
پروفیسورعبدالله بختاني «خدمتګار»، چې زموږ د هیواد یونامتو عالم اوتکړه لیکوال او شاعر دی، په خپله یوه لیکنه کې داستاد سعید افغاني صاحب په اړه داسې کښلي دي (...دې ماشوم د خپل وړوکتوب په دوره کښې د خپل کلي له ماشومانو سره د خیر آباد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوره خاپوړې کولې . پلار یې لوی مدرس او د تیګرو د ښار د جامع جومات خطیب او امام وو. دهغه وخت له رسم او رواج سره سم مدرسانو به ددیني علومو طالبانو ته درسونه ویل. د درسونو نصاب معلوم و . د تفسیر ، حدیث ، فقهي ، دحدیث اصول ، دفقهي اصول ، صرف، نحو ، بدیع ، بیان ، معاني ، تجوید ، منطق او فلسفې باندی شامل و.

ځینو متبحرو عالمانو به د دغو ټولو موضوع ګانو کارکاوه ، ځیني به په یوه څانګه کښې مشغول وو چه د هغه وخت په اصطالح د هماغه څانګې عالم یا مال بلل کیده ، لکه د فقهي مال، د حدیث، یا تفسیر یا صرف، یا نحو، یا منطق ... مال او داسې نور.

د خط ، حساب او نظم » ادبیات « لپاره بیل درسونه وو، او استادان یی » ناظمان « بلل کیدل. دوی سره، د دیني علمونو طالبانو، چه د هیواد له ګوټ ګوټ نه راتلل او د هغه کلي او شا و خوا کلیو د خلکو په مرسته ، خیراتونو او صدقو ژوند کاوه.

محمد سعید، د خپل پلار د درس په حلقه کښي خپلي لومړني زده کړي وکړی . د دیني موضوع ګانو، او د صرف، نحو ، منطق او معاني مبادي یې هلته ولوستل او همتله ښایسته ښه مال شو....)

استاد سعید افغاني صاحب د لومړنۍ زده کړې وروسته پر 1320 کال کې رسمي آزموینې سر ته ورسولې او بیا د کابل دارالعلوم ته، چې په سیمه کې یو نامتو دیني مرکز وو، په پنځم ټولګي کې شامل شو.

پر1325ل کال کې له دولسم ټولګي څخه په ډیره عالي درجې سره فارغ شو. د کابل د دارالعلوم د مقاماتو له پریکړې سره سم، د ده پر سر د مولوي توب لونګۍ وتړل شوه، او هلته د استاد په توګه وټاکل شو.

ده پر 1328 کال په ننګرهار کې د نجم المدارس دمدرسې د مدیر (سرمدرس) په توګه پوره لس کاله خپلې دندې ته دوام ورکړ.

بیا کابل ته راغی د میرویس نیکه لومړی ښوونځي کې د ښوونکي په توګه او ورپسې د حبیبیې په لیسه کې د دیني علومو(تفسیراومنطق) د ښوونکي دندې لرلې.

استاد سعید افعاني صاحب پر 1342 کال یا ) 1964 زکال کې د لوړو زده کړو لپاره مصر ته والړو، او هلته یې تر 1347 )ل کاله پورې د جامع االزهر په پوهنتون کې د فلسفې او الهیاتو په څانګه کې خپلې زده کړې ته دوام ورکړ.

د خپلو لوړو زده کړو وروسته د االازهر له پوهنتون څخه د لیسانس، ماستري او دوکتورا دیپلومونه یې تر السه کړل، بیا خپل وطن ته راستون شو.

کله چې دی پر1347 ل کال کې وطن ته راغی، لومړی په کابل کی د روښان په دارالمعلمین کې د تاریخ مضمون د استاد په توګه وټاکل شو.

بیا پر1348 ل کال کې د پولي تخنیک انستیتوت دټولنیزو علومو په دیپارتمنت کې د استاد او آمر دندې تر سره کولې.ورپسې پر 1352 )ل کال کې د محمد داود خان په فرمان سره د عدلې وزارت په چوکاټ کې د قضا د عالي شورا د غړي په توګه په مافوقې رتبې کې )وزیر( وټاکل شو، چې تر څنګ یې د قضایي محکمې چارې هم مخته بیولې.

په همدې وخت کې د کعبې زیارت ته والړو او د حج په مراسمو کې یې ونده واخیسته.

دی پر 1357 ل کال کې د تمیز د عالي محکمې (قاضي القضات) د ریس په توګه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې د اسلامی شئوونو دوزارت او وروسته د علما او روحانیونو د عالي شورا په راس کې دندې تر سره کړې دي .
استاد سعیدافغاني صاحب په خپل وخت کې د پلار وطني جبهې یا ملي جبهې دمرستیال په توګه، د ژورنالیستانو، لیکوالانو، حقوق دانانو د ټولنواو د اکادیمي علوم د علمي غړي په توګه وټاکل شو. په پوهه او هنر کې لومړی شرط استعداد، بیا استاد او ورپسې د ده خپلې هلې ځلې دي.
استاد سعیدافغاني صاحب ته پاک خدای یو ذاتي او ځانګړې استعداد ور په برخه کړی وو، ده د خپل پیاوړي قلم په وسیله، هغه وخت چې د عربي دارالعلوم زده کوونکي وو، په دیني، اخلاقی اوټولنیزو برخو کې ډیرې په زړه پورې لیکنې او مقالې په مطبوعاتو کې په پرله پسې توګه کښلي او خپرې کړې دي.
نوموړي په ننګرهار او کابل کې پرته له تدریسي چارو په ادبي او فرهنګي ډګر کې مهم نقش او رول لوبولی دی.
هغه په ننګرهار کې د « **النجم** » په نوم جریده د مدرسې لپاره په پښتو ژبه کې، چې لومړۍ ګڼه یې پر 1337 ل کال کې د میزان میاشتې پر 30 نیټه خپره شوه چلوله، او د دې جریدې مسوولیت یې هم درلود.
په کابل کې کله چې دی د حبیبیې لیسې ښوونکي وو، د ( اخلاق ) په نوم جریده د خپل قلمي هاند او هڅې په وسیله د زده کوونکو لپاره چلوله.
استاد سعید افغاني صاحب به هر کله زده کوونکي د شعروشاعرۍ او ادبي نثرونو په ډګر کې روزل، پالل اوهم یې هڅول، همدا لامل وو، چې د زده کوونکو پر اشعارو، لیکنې او مقالې د دې جرایدو پاڼې رنګینیدلې او هرچا په ډیره مینه په کې برخه اخیسته اوخپلې لیکنې یې نشرولې.
خوزیاتره د ده خپلې لیکنې اومقالې وې. سرمحقق محمد صدیق سیلانی په خپله یوه لیکنه کې د استاد سعیدافغاني صاحب په اړه داسې وایي:
« مرحوم محمد سعید » سعید افغانی« از شخصیت هــای فرزانه و درعین حال مبارز کشورعزیزما افغانستان است. وی بیشترین سالیان زندگی پر بارش را وقــف ایجــاد آثارعلمی و تعلیم و تــربیت نسل جــوان کشور به روحیه وطنپرستی و صداقت و خدمت به مردم نموده و در ردیف آنعده فرزانه مردان قرار دارد که دست اندرکاران دانش ومعرفت جامعه افغانی برافکار و اندیشه هایش حساب میکنند.»
په رښتیا سره د استاد سعیدافغاني صاحب ټولې لیکنې اومقالې په تیرا بیا په دیني، علمي، ادبي او فرهنګي چارو کې د خورا قدراوستاینې وړدي.
ده د شعراو ادب سره ډیره مینه او علاقه لرله، د پښتو ادب لمن یې په خپلو ادبي نثرونواو شعرونو تازه اوښیرازه ساتلې وه، نوموړي خپلې لیکنې په ډیر ساده، روانو او خوږو الفاظو کې په ظریفانه انداز سره کښلي دي.
د ده په تحقیقي او څیړنیزو آثارو او ادبي نثرونو کې د انساني او ټولنیز ژوند موضوعات په ډیر عالمانه، علمي او انتقادي ډول څیړل شوي دي.
د هغه دا لیکنې، زموږ د هیواد په زیاتره ورځپاڼو، جرایدو او مجلو کې خپرې شوې دي.
د استاد سعیدافغاني صاحب خدمتونه هلې ځلې هر با احساسه افغان نه شي هیرولې او سترګې نشي ترې پټوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوکتور فخرالدین سباوون د «**هينداري او نيزه**» مسوول مدیر په خپل يو شعر کې د ده شخصیت داسې ستایلی دی:

**عالمه مولوی دوکتور محمد سعید « سعید افغانی»**

ته « سعید » ته نیکبختي د هر افغان يې
ته د شرق ځالنده ستوری ، په جهان يې
ته دټول افغانستان فخر او نشان وې
ته خواخوږی او خیر خواه ، د هر انسان وې
ښه ماهر، ته د دوران او د ایمان وې
د اظهر، شعلور لمر او نمایان وې
ته داکتر وې ، د اسلام دوست د سبهان وې
ته مهرر، ښه مفسر دپاک قرآن وې
ته استاد، د فلسفی او دبیان وې
نړیوالوته، دسولې په ارمان وې
ته « سعید افغانی » ستر روحاني او عالمه وې
ته ثانی، « جمال الدین » ددین قائمه وې
د اسد میاشت ، 1387 ل کال ـ کابل

د استاد سعیدافغاني صاحب د آثارو، لیکنو اومقالو څخه څرګندیږي، چې ده خپله ټوله پاملرنه، توان، ټوله انرژي او د ژوند هره شیبه او ګړۍ د خپلو خلکو دملي وحدت، یوالي، اتحاد او اتفاق، ورولي، د سولې او سوکالۍ، انساني مناسبات، دنیوي او آخروي نیکمرغیو په لارو وچارو کې وقف کړې ده، ده د خپلې پوهې او لیاقت په وسیله دیو دیني او علمي او ادبي عالم په توګه په خپلو آثارو او لیکنو کې له ربښتینولۍ او حقیقت نه کاراخیستی او په ټولنیزو چارو کې يې د هر ښیګڼې ستاینه کړې ده، د تعصب، کینې، حسادت، کبر او غروراو غیبت سره يې کرکه لرله، د نصیحت، پند او عبرت په توګه يې خلکو ته د ښو او بدو لارولاربښوونه کړې ده.هره بدي يې غندلې، که د حکومت خامي او که د وطن او دخلکو د یوالي، ملي وحدت او وروروليې پرخالف وي، نوموړي خپل ټول پیغامونه، اهداف او انساني مقاصد بې له ویرې او ډاره خپلو خلکو ته په ډاګه کړي دي.

مولوي غلام سرور منظور په خپله يو لیکنه کې د استاد سعید افغاني صاحب په اړه داسې وايي:

« ...څه شی چې زما په نظر ډیر د یادونې وړ دی هغه دا چې : مولانا صاحب د کورني او بهرني سولې ته ډیر ه زیاته توجه در لوده ، ده د سولي د ټینګښت په خاطر ډیرې زیاتی مقالې ، موعظې ، دیني مضامین ، کتابونه او رسالی لیکلي دي ، چې هر يو يې د ډیر زیات ارزښت لرونکي دي.

ډاکتر صاحب عالم وو ، او عالمان ور باندی ډیر سخت ګران وه ، او عالمانو ته به يې همیشه داسې خطاب کاوه : « چې سوله تبلیغ کړی ، ورور ګلوی تبلیغ کړی ، د انسان انسانی کرامت تبلیغ کړی، فقر ، ! فلاکت ، دربدری، بی عدالتي، لوږه، بی کوري او اجتماعي مظالم چې اصلاً داسلام مبین دین يې په کلکه غندنه کوي، د اسلام له نظره و خیری او اضرار يې ټولو مسلمانو او زیارایستونکو هیواد والو ته ، روښانه کړی » .

دی پدی عقیده و چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاامام ، خطیب او نور دیني او مــذهبي مسوولین د نورو هیواد والو په وړاندی ډیر درانده مسوولیتونه لري ، را پیدا شوې ستونزې باید عالمان او روحانیون په مبتکر رانه توګه تشریح او توضیح کړي.... )
الحاج استاد سعید افغاني صاحب، د وطن د ازادی، سولې، سوکالۍ، خپلواکۍ، دیني، علمي، اخلاقی او ټولنیز مطالبو په اړه په خپلو آثارو، لیکنو، مقالې او ویناګانو کې په ډیر انساني اخلاقی او اسلامی فکرونو خپل نظریات په ډیره خوندوره ساده او روانه ژبه، چې په کې ډیرلوړمفاهیم او معناګاني نغښتي دي، خپلو خلکو ته بیان کړي دي.
د ده د آثارو، لیکنو او مقالاتو اغیز هغه وخت سړی احساسولی شي، چې هغه په ژوره توګه مطالعه کړي، د ده پوهنیز، څیړنیز، دیني، تاریخي او ادبي آثار، ویناګانی، روحانیت، علمیت اوتجربه زموږ په هیواد کې او له هیواد نه بهردومره شهرت ترلاسه کړی دی، چې خلک د ده روحاني، مذهبي، ټولنیز او علمي شخصیت ته په ډیره درنه سترګه، د عزت، عقیدت او درناوی په توګه ګوري، او د ده په لارښووونو ویناګانو، نصیحتونواو پندونو خپل عملي ګامونه اوچتوي..
پروفیسورعبدالله بختاني « خدمتګار»، چې زموږ د هیواد یو نومیالی او متفکرشخصیت دی، په خپله یوه لیکنه کې داستاد سعید افغاني صاحب په اړه داسې کښلي دي:
«دوکتور محمد سعید » سعید افغانی « زمــونږ دهیــواد مشهور عالم ، لیکوال ، مـولف، استاد او اجتماعـــی شخصیت و چــه تل یې د سولې، تـرقي، وروري ، برابري او تفـاهم لپـاره مبارزه کـوله، د دې نومیالـي پوه دروند نـوم هم په وطــن کښې او هــم د نړۍ په نورو هیوادونــو کښې خپور او مشهور دی ...).
کله چې استاد سعید افغاني صاحب لوړې زده کړې پای ته ورسولې او خپل وطن ته راغی، په دارالمعلمین کې د تاریخ د مضمون داستاد په توګه خپلې دندې ته دوام ورکاوه، په دې وخت کې ده دهیواد سیاسي او تاریخي مطالبو ته ژوره پاملرنه وکړه او خپل نظریات او یاداښتونه یې سره را ټول کړل او د کتاب په بڼه یې «د افغانستان تاریخ» په نامه چاپولو ته برابرکړل.
ده د هیواد سیاسي حاالتو، سیاسي فعالیتونو ته ډیره پاملرنه لرله. دکابل پوهنتون او پولي تخنیک انستیتوت زموږ په هیواد کې دلوړو زده کړو، سیاسي او صنفي مبارزاتو او فعالیتونوډیر مهم، ستر او اوچت علمي، تخصصي او سیاسی مرکز وو، چې په ملي کچه د نارینه او ښځینه د زده کوونکوپه روزنه او پالنه کې یې ډیر اغیزمن نقش درلود.
په پوهنتون او پولي تخنیک کې سیاسي ګوندونود خپلو سیاستوالو په وسیله خپلې سیاسي موخې دخبرو اترو،لیدنې کتنې او د ښو اړیکو په ټینګولو سره د زده کوونکو په منځ کې فعالیتونه کول، په اخبار او جرایدو کې بیلا بیل موضوعات خپریدل، مظاهرې، میټینګونه او د سلطنت پر ضد فعالیونوکیدل، خو دهغې وخت سلطنت دا ټوله وضع تر خپلې پاملرنې لاندی ساتله، په ښکاره او پټ ډول یې خپل پلویان لرل.
استاد سعید افغاني صاحب د یو با احساسه، ملي او وطنپرست شخصیت په توګه د هیواد سیاسي حالت او وضع په غور سره تعقیبوله، هغه وو، چې د کابل پوهنتون او دپولي تخنیک د استادانو او زده کوونکو د دموکراتیکو صنفي فعالیتونواوهلو ځلو نه خپله پلوي وښوده او د دوی ترڅنګ د صنفي او دموکراتیکو اهدافو لپاره یې فعالانه مبارزه پیل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد سرفراز مومند، چې زموږ د هیواد یو تکړه سیاست پوه، ټولنیزپوه، ادبي اوفرهنګي شخصیت دی، د استادسعیدي افغاني صاحب صنفي فعالیتونه په پوهنتون کې په خپله یوه لیکنه کې داسې بیانوي:( ... په د غه وخت کې د افغانستان د پوهنتونونو قانون خپور شوی ؤ ، چې د محصلینو او استادانو د جدي غبرګون سره مخامخ شو. په 1350 کال کې د محصلینو اتحادیه جوړ شوی وه ، ویل کیدل چی نوموړی قانون غیر دیموکراتیک دی ، د استادانو او محصلینو حقوق پکې پوره په نظرکې ندی نیول شوی نو د استادانو د اتحادیی جوړیدل په همدغه وخت کې یو مبرم ضرورت ګڼل کیده ترڅو، چی د محصلینو د اتحادیی په څنګ کې د استادانو اتحادیه هم جوړه شي او د استادانو د دیموکراتیکو او صنفي غوښتنود پاره مبارزه وکړي. پدغه وخت کې کابل پوهنتون د سیاسي مبارزاتو ډګر ؤ، د ټولو سیاسي جریانونو نمایندګان په پوهنتون کې محسوس ؤ ، د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند دوې برخې «خلق او پرچم » ، د ماپوستانو ګوند » شعله جاوید » ، افغان ملت ، صدای عوام او جوانان مسلمان فعالیت درلود .
هرګوند به په مختلفو مواردوکې ځانګړی غونډی او تظاهرات تنظیمول خو په تاسف د دغه ډلو اکثر انرژي د یو بل په تخریب مصرف کیده او پدغه اساس همیشه صنفی هدفونه د سیاسي مرضونو قرباني کیدل ، دوخت دولت په د دې تضادونو څخه استفاده کوله او صنفي مبارزو به مطلوبه نتیجه نه ورکوله.
ښه مې په یاد دي چې دغه وضع د استادانود اتحادیی په جوړولوکې هم مسلطه وه ، هرې ډلې غوښتل، چې اتحادیی ته یې غړي انتخاب شي، چې د ضرورت په وخت کې دغه صنفی اتحادیه د خپل سیاسي غرضونو د پاره استعماله کړي. جلسی روانی وې ، تضادونه عمیق کیدل او با الاخره یوه جلسه دومره هیجاني شوه چې نژدی وه چې د استادانو اتحادیه، چې د استادانو د صنفی ګټو یواځنی رښتینی مدافع وه جوړه نشي اوغونډه رنګه شي او دغه کالس حق او دیموکراتیک غوښتنه په ځای پاتی شي.
درست په دغه لحظه کې استاد سعید افغانی چې د پولیتخنیک د بی طرفه استادانو څخه ؤ او د پو هنتون اکثره استادانو کې د ټاکلي احترام څخه بر خورداره ؤ، یوه ثابته بیانه ایراده کړه، استادان یې اتحاد او اتفاق ته را وبلل ، صنفی هدفونه او سیاسي هدفونه یې لنډ توصیح کړل ، هیله یې وکړه، چی صنفي غوښتني د سیاسي غوښتنو څخه بیلی کړي ، استادان یې په ډیر ارام او متانت سره دغه عظیم مسوولیت ته متوجه کړل، چې که دا اتحادیه جوړه نشي نو یوه نه بخښونکی تاریخي اشتباه به مو کړي وي او راتلونکی به په مونږ لعنت وایي. پر لیسی چکچکو دغونډی سکوت مات کړ، دغه بیانیی په ټولو استادانو ښه تاثیر وکړ ، جلسی دوام وکړ او په نتیجه کې په یو ټا کلي پروګرام د اتحادیی انتخابات وشول ، اتحادیه جوړه شوه ، چې دارالانشایی پدی ډول و ټاکل شوه:
1ـ استاد فضل الربي پژواک د اتحادیی د ریس په تو ګه
2ـ استاد سعید افغاني د اتحادیی د معاون په تو ګه
3ـ سرفراز مومند د اتحادیی د منشي په تو ګه
4ـ داکتر پشتونیار « د ننګرهار پو هنتون څخه» د اتحادیی د منشي په تو ګه ...
د استاد سعید افغاني صاحب دروند نوم نه یوازې زموږ په هیواد کې، بلکې دنړۍ په یو شمیر نورو هیوادونو کې هم خپوراوپیژندل شوې دی.
دی په قاهره کې د پښتو راديويي خپروني د ځانګي ویاند اوآمر هم وو، ده د دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راديويي خپرونو په وسيله زموږ د هيواد تاريخ اوفرهنګ، او زموږ ده وطن او د مصر د تاريخي او فرهنګي اړيکو په اړه، اودعلمي، اسلامی او مذهبي مطالبو په تړاو نړيوالواوعربي نړۍ ته په عربي او پښتو ژبو معلومات ورکاوه.
دی يو ربښتيني متدين، پاک او سپيڅلي مسلمان وو. کله چې پر 1967 ز کال کې د مصر جمهوري دولت له نظامي يرغل سره مخامخ شو، په همهغه شپه کې، ده ټول خطرونه قبول کړل، ځان يې د قاهرې راديو ته وراساوه. د پښتو خپرونو ترڅنګ هغه د راديو عربي نشرات په عربي ژبه په ډيره ميړانه، چې د فصاحت او بالغت له خالقيت او ژورنالستيکو نورمونو سره برابر وو، فعال وساتل، او ټول خلک يې متانت، وروړلي، اتحاد او اتفاق ته او نظامي قوتونه يې د نظم اوامنيت ټينګولو ته په ډيرو عالمانه توضيحاتو هڅول، چې د اروابناد جمال عبدالناصرد جمهوري دولت څخه ملاتړ وکړي. همدا عامل و، چې دی د اروابناد جمال عبدالناصر له خوا، چې د ارشاد او فرهنګ وزير هم حضور درلود، رسما وغوښتل شو، د ده شجاعت اوميړانه يې وستايله او دی يې ډير زيات ونازاوه او ورته يې وويل: «... ستا دا شجاعانه او د ميړاني ابتکار د سيد جمال الدين افغاني خاطرات او يادونه، يو وار بيا د مصر د خلکو په زړونو کې شيرازه او تازه کړل، له دې کبله د مصر دولت ستانه د دوهم عالمه په توګه او د افغانستان له ټولو خلکو څخه د زړه له کومې مننه کوي....» اروابناد جمال عبدالناصر د ارشاد او فرهنګ وزير ته دنده وسپارله، چې د استاد سعيد افغاني صاحب دوه کتابونه، چې « شيخ االاسالم عبدالله الانصاری الهروی او نابغٔه ءالشرق السيد جمال الدين الافغانی » نوميدل د ده له خدماتو او ميړانو او د افغانستان او مصرد روابطود ټينګښت لپاره چاپ کړي.
استاد سعيد افغاني صاحب، د ده له پاملرنی څخه د زړه له کومې نه مننه وکړه. په ربښتيا سره، داستاد سعيد افغاني صاحب دا خدمتونه، او نه ستړيکيدوونکې مبارزه دقدر او ستايني وړ ده.
لنده دا چې استاد سعيد افغاني د خپل ژوند تر آخره سلکۍ پورې خپل قلم اوچت ساتلی وو، او د دوه زرو په شاو خوا کې يې ، ديني، اخلاقی ، تصوفي، فلسفي، ټولنيز، سياسي، ادبي او فرهنګي ليکنې او مقالي کښلي دي، د خپل وخت په مجلو او ورځپاڼو کې لکه: هيواد کاروان، انيس، پامير، ننګرهار، پيام حق او قضا او همداسې نورو.... کې د ده ليکنې او مقالې خپرې شوې دي.

## د استاد سعيد افغاني چاپ او نا چاپ شوي آثار او تاليفات دا دي:

1-شيخ الاسلام عبدالله الانصاری الهروی، په عربی او دري ژبو ، چاپ (1967ز)
2- نابغة الشرق سيدجمال الدين الافغانی ، په عربي ژبه چاپ (1967)ز
3-د شرق نابغه سيدجمال الدين افغاني ،په پښتو ژبه ، چاپ (1355ل)
4-افغانستان ، تاريخاً، حضارتاً و كفاحاً ،په عربی ژبه ، ناچاپ
5-العقيده الاسلاميه وآراء المعتزله والاشاعره والماتر يديه واختلافاتهم
6-الاشارات و التنبهات ابن سينا، په پښتو ژبه، چاپ ( 1359 ل)
7- تفسير ، د يو لسم ټولګی لپاره په پښتو ژبه
8-تفسير ، د يو لسم ټولګی لپاره په دری ژبه
9-عقايد- درسی کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

10-منطق ــ درسی کتاب
11- اساسات اسلام به نگاه علم و فلسفه ــ د دارالمعلمین 13 )ټولګي لپاره
12- اساسات اسلام از نگاه علم و فلسفه، د دارالمعلمین (14)ټولګي لپاره ۰
13- کلتوراسلام از نگاه علم و فلسفه، په دری ژبه، د( 1349 ل)کال چاپ
14-مختصر تاریخ افغانستان و دول متمدن اسلام . پولیتخنیک کابل
15- محمد« ص» رهبربزرگ اسلام ،د(1363 ل)کال چاپ
16- پلار وطنه ملی جبهه او یا دلته د ټولنیزوستونزو د حل الر، د(1362 ل)چاپ
17-خطر جنگ هستوی، په دری ژبه ، د(1363 ل)چاپ
18- انـدرزونه ــ په پښتو ژبه ، ناچاپ
19- آداب قاضی، په دری ژبه
20- و الصلح خیر، صلح و آرامش از دیدگاه اسلام ، د (1362ل)کال چاپ
21- زندگی مسلمانان، په دری ژبه د (1363 ل)کال چاپ
22-انـدرزونه ــ په دری ژبه ، ناچاپ
23-در باره ادیان و دین اسلام ، په دری ژبه ــ ناچاپ
24- اخلاق و فلسفه ، په دری ژبه ناچاپ
25-د نجات او کامیابي لپاره علم او فلسفي له نگاه، د (1370 ل)کال چاپ
26- امراض روحی و معالجه آن ــ ناچاپ
27- الاخلاق و التصوف ـ په عربی ژبه ، ناچاپ
28-سفر، د (1982 ز ) کال چاپ
29- خلاصه اندرزها ونصایح سودمند برای ستاژیران قضا ، د (1354ل )کال
چاپ 30-ارکان ، شرایط و احکام نکاح ــ ناچاپ
31-طبیب بگو مرضم چه و چاره چیست ؟ ، ناچاپ
32-مبادی اسلام ،د (1369 ل ) چاپ
33-حاکمیت انقلابی ، نا چاپ
34-تعبیر ــ په پښتو ژبه ــ ناچاپ
35- د باختراطلاعاتی اژانس مطبوعاتی مصاحبه ـ د(1347ل) کال
36-انقلابی افکار ، هځی او هیلی ــ ناچاپ
37- زمـــا ژوند ــ ناچاپ

استاد سعید افغاني صاحب پاک، سپیڅلی، مهربان او متفکر انسان د پراخې حوصلې او د لوی همت، او میړاني خاوند شخصیت وو.
ده د بیوزلو، بې کسو خوارانو، یتیمانو، کونډو او رنډو سره سپیڅلې مینه او خواخوږي لرله، او په صداقت، تقوا، اخلاص او پاکۍ سره یې خپلې خاورې، خپل هیواد او هیوادوالو ته په عمل کې ارزښتمن کارونه او فعالیتونه تر سره کړي دي،
ده دپاک الله سره، دانسان او انساني کرامت سره سپیڅلې مینه او محبت درلود.
اروابناد استاد سعید افغاني پر(1363 )لمریزکال دحوت په اومه نیټه یا
پر 1985 زیږدیز کال کې دفبروري په 25 )نیټه له دې فاني دنیا څخه سترګې پټې کړې. د زړه له ناروغی له امله د ده مهربان او خواخوږی زړه ودرید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی په کابل کې د جابر انصار(رض) د مزار ترڅنګ د شهدای صالحین په هدیره کې په ډېره درناوی سره خاوروته وسپارل شو.
روح دې یې ښاد وي او د ده روحاني، علمي او ادبي ډیوې دې تل روښانه وي.
**په ډیردرنښت: انجنیرعبدالقادرمسعود**

## د استاد سعید افغاني د آثارواو لیکنو څخه مو څو بیلګې غوره کړي دي، چې ستاسو درنولوستونکو پام ورته راګرځوم:

## لمـــر!

ستا نور ، ستا پلو شې او ستا حـرارت د ژونــد په اړخـونو کښې تآ ثیـر اچوي او د موجــوداتو او کائناتـــو په تحـول او تطـور کښې لـوی لاس لـــري. ته که نه ئــې ؛ شپه به سبا نشي او د شپې تیارې به ټول قوا وې په ظلـمت کښې وساتي.
دا سـبا ، دا رڼــا ، دا حـرکت او دا جدیـت؛ د ستا د وړانګــو مـرهــون دی.
دا هڅـــې، داهیلــــې او دا تپــش؛ د ستا د حـــرارت پــه اثـــر نڅـا کـوي.
دا شـور او د ا زوږ ، دا رنګ او دا بوی؛ د ستا په پــرشوره څپــو کښې مستي کـــوي. داکتر محمد سعید « سعید افغاني » ـ کابـل

## د ژوند رسالت له خدایه وویرېږي!

مګر؛ افسوس چه له خدایه ویره کمه شوې ده. ایمان او وجدان ته خجالت دي! خو آرمان چه د اکثرو سره ایمان او وجدان نهایت زیات کمزوري دي. له تاریخه وډارېږي! خو ځیني د تبصرې په ډول وایي: هغه چه د تاریخي مسؤولیت څخه نه ډارېږي، د دې شخصیت نه لري چې د تاریخ څخه وډارېږي. د دې ټولو سره سره یوائې همدومره باید ووایم. لږ څه خو د وطن د خدمت او دخلکو دژوند ښه کیدو او د پرمختګ او دایمي سعادت د پاره او وطن د اولادو په حیث ټکان وخورې او د خپل د ژوند رسالت ته جدي پام وکړې.
**سعید افغاني د ( 1358 ) ل کال ـ کابل**

## سلګۍ !!!

سلګۍ ... سلګۍ ... بیا هم سلګۍ !!!
دا د مرګ سلګۍ ، دا د مظلوم او بیچاره انسان د ځانکندن سلګۍ !!! اف !!! هغه ولې زخمي شو؟ په هغه باندې دا پرهارونه چا کېښودل ؟ هغه په وچو شونډو مړي! هغه مري خو ډیر تږی دی ، او څوک نشته دی چې په خوله کښې یې اوبه واڅوي. دهغه مرګ د ډیرې مایوسی مرګ دی، په زړه کښې یې ډیر آرمانونه شته دي. دهغه ټول آرمانونه د خاورو سره برابر شول. دهغه غوښتنې مرغان او ځیرونکي حیوانات خوري، قبرنه لري، چې د ګلالانو ګیډۍ وربانديې کیښودل شي ، او نه یې کومه مناره او جنډه په سر ولاړه ده، چې احترام او سلام ورته وړاندی شي او لکه د ده دځان او وجود په شان یې نوم هم ورک شو، او د یو ګمنام سپاهي په نوم یادیږي.
هو : دلته یې و جود او نوم نشته دی!!! مګر؛ دا ځلې په رمزي ډول د غیرت او میړانې څخه تعبیر کوي.
وایي : هغه ښه غښتلي ځوان ؤ ، روان تندې ، پنډې متې او ښایسته هیکل او قامت یې در

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوده ، هغه په ختېه افغان او د دې خاورې زوی وه.
هغه د پښتنې او افغانې مور په شدو لوی شوی ؤ.
هغه د دې لپاره نه وه لوی شوی، چې په برچو ، ګولی او بم و مري. هغه زړه او ضمير در لوده او دښې تربيي استعداد ورسره پياوړې ؤ. هغه د مور په غيږ او دپالر په ناز لوی شوی ؤ.
هغه د دې وطن اواولاد او توليد ؤ.
اف !!! هغه چا مړ کړ؛ او ولې مړ شو ؟
افسوس !!! د هغه په پرهارونو پټې کښې نه ښودل شوې! .
په مړينې يې چا ونه ژړل ادکي مور، يې سرته ولاړه نه وه! پلار او دوستان يې په مرګ خبر نشول! ظالمو وطنوالو وربانديې زړه ونه سوزيده! !
پرستاري يې ونه شوه آرمان ؛ د هغه پياوړي ځوان خوله او تن د وطن په خاورو سپيره په خپلو وينو ککړو پرهارونو، سوړمو او خولې يې ډيرې وينی لاړی، سترګې يې د زړه په سرو وينو او ګلابی اوښکو ډکې او د وطن په کلمه يې سا او آخرنې سلګې ورکړه..
**انا لله و انا اليه راجعون.**
**وايي:** د ده د مرګ په وخت کښې يو تن سخت زخمي، چې د ده په څنګ کښې پروت ؤ او ورسره د مرستې توان يې نه درلوده، له ده څخه داسې اوريدل: اې زما خوږې مورې؛ ګرانه پلاره ، ورونو او دوستانو: زما مرګ د وطن د خدمت په لياره کښې ؤ. زما نيت او اراده پاکه وه. ما غوښتل چې د وطن د آزادې او استقلال په لياره کښې سر ورکړم. زه ظالم نه وم او نه يم ؛ خود ظالم د لاسه په داسې بې رحمې مرګ مرم....
هو : زه مرم .... او زما د مرګ آخرنې دقيقې او ثانيې دي.
زما روح الوزې او د دايمی پرواز لپاره ځان برابروي.
زه په داسې حالت کښې هم ډير خوښ يم او دا قوې هيله لرم. چې زما له پاکو وينو به داسې ګلان او زمريان پيدا شي، چې زما او د ټولو وطنوالو پاکې هيلې به ښې تر سره کړې.
زه مسوؤل نه يم!!!
زه ګناه ګار نه يم ، او نه را سره د بل چا په حق باندې د تيري خيال ؤ.... بلکه زه د خپل وطن ، د خپل حق په لياره کښې د غليم له لاسه مړ شوم .... خو زما باور دی چې په دغه لياره کښې به د مطلب د پوره کيدو پورې ډير سرونه ژار او قربان شي.
**هـو** : و اورئ او بيا ټوله دنيا وربانديې خبره کړئ، چې زه مرم ، خو زما دا مرګ د نامردی مرګ نه دی!!! زه خپله سا او آخري سلګې په داسې حال کښې دلاسه ورکوم، چې دراتلونکي عادلانه قضاوت هيله را سره قوي ده.
زه د دې قضاوت هيله هيڅ نه لرم چې زه ولې مړ شوم ؛ او نه د کوم برائت د اخستلو پروا لرم ، ځکه چې زما لپاره همدومره بس دي چې خپل ايمان او وجدان ته خجالت نه شوم. بلکه زما هيله د هغه عادلانه قضاوت څخه دا دی، چې د ټول وطن د موجوده جنجالونو د ښه حل په باره کښې واقعي حکم صادر شي ؛ ترڅو د عبرت وړشي ، او په هغه چا نفرين ووايي، کوم چې په نا معقولو حرکتونويې وطن او خلک تباه کړل هو.... زه دا حق لرم چې ووايم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ا انسان ولې ؛ په بل انسان باندې ظلم کوي ؟ دا انسان ولې ؛ په خپل خیر او شر ښه نه پوهیږي ؟ د ا انسان ولې ؛حق ته باطل او با طل ته حق وائي ؟
**رحمان بابا وائي:**
**که څوک تله د انصاف په لاس کښې در کړي**
**خــپل تېتــو او دبل آس بــه بــرابر کـــړي**
**افسوس !!** چې په برابریدولو هم قانع نه دي. حقیقت دادی چې دا انسان په دې شلم قرن کښې هم د وحشت او بربریت له مفکورو څخه نه دی خالص شوی. دا انسان د نورو په حقوقو تجاوز کوي ، او خپل تجاوز ته عدالت هم وائي. دا انسان لاتر اوسه د ځیرونکو حیواناتو څخه هم بد خوي او خصلت لري، نه مړیـږي، بس نه وائي ، په خپلې هوا او هوس کښې ډوب دی.
افسوس !! نن دا انسان خپل ټول قدرت او طاقت په دې کښې صرفوي چې خپل انسان ورور ځیرې کړي ، او بیا په خپل شیطاني بد عمل وویاړي ، حتې دا چه په ښکاره ډول باطل ته حق او حق ته باطل وایي؛ او په ډیرمهارت کوشش کوې چې جائز دلایل هم ورته برابر کړي.
**ښه !!** نو په داسې شرایطو کښې چاره څه ده ؟ او څه باید وکړو؟ زما په نظر : یو ګډ وطني تفاهم ته ضرورت دی؛ چې دا موجوده جنجالونه د مفاهمې د لیاري، ښه په معقول ډول وسیږي ، او بیا د حل په لپاره کې مشترک ګامونه پورته شي!!! خو دا چې څوک به دا کار وکړې شي ؟
**هــو**: زه باور لرم، چې دا پاک عزم ، او قوي اراده؛ د وطن صالحو وطنوالو ایماني او وجداني تفاهم او معقول وطني حرکت ته په جدي ډول ضرورت لري او بس.
**افسوس!!** په اوس وخت کښې له هـر خوا د مایوسې حالت قوي دي. مګر ؛ زه باورلرم که چیرې د وطن زامن په ریښتني ډول، په اتفاق او پاک نیت او عمل باندې کار پیل کړي، دا راتلونکي شرایط به دغه شاني ټول موانع او عوائق له مینځه حل شي او په هغه چا به لعنت ووائي ، کوم چې د وطن او د وطن د ځامنو د تباه کولو په لیاره کښې ئې هاند ویستلو.
**هـو** : په دې وطن ډیرې شخړې او تباهی را غلې ؛ او د دې وطن ځامن تر اوسه پوری کړیږي او سلګۍ باسي. دا ولې ؟ او ترڅو ؟ ښکاره واقعیت دا دې چې : د ظلم او زور، زیاتې کا سه ، اخر نسکوره کیږي او بله دا چې په بې عدالتې، کلي او کورونه نه جوړیږي .
سعید افغاني 11-9-1359 ل کال- کابل

## انـتظار تا به چه وقت ؟

تا چند به انتظار این و آن باشیم !!! دیـر شد و مدتی مدیدی در حالت انتظار به سر میبریم. من انتظار آن را ندارم که برای شخصـی من چیزی داده شود؛ بلکه انتظار من برای آرامی و رفاه اجتماع است. ا
افسوس!!! من در زنـدگی تصور نمیکردم که چنین حالت مُخوف به او ضاع عمومی مسلط گردد و زمینه های نا معقولیت، وحشت ، نفاق و تباهی عمومی را که همه با هم در آن خواهیم سوخت؛ مساعد و دامنه دار سازد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمیدانم به تنهایی چه کنم؟ اگربه تنهایی اقدام کنم، سودی ندارد !! و از جانب هم میگویند که حرکت انفرادی مخالف حرکت مترقی میباشد و با این طریق فعآل به تنهایی تحت تاثیر حرکت های نا مترقی واقع میگردم.
باید صادقانه بگویم که : از دوام این حالت رنج میکشم ، مریض شدم ، قلب و فکرم پریشان گردیده و از هر طرف به ناملایمات ها مواجه میباشم!!!
راز دلم را بکسی گفته نمیتوانم ! همه تماس و فعالیت هایم تحت نظارت و مراقبت شدید قرار دارد ، شب و روز در جمود و رکود بسر میبرم و حتی میترسم که آخر در جمله گناه کاران به حساب شوم و یک عمر حرکت های را که به منفعت وطن و سعادت مردم انجام داده ام ، به هدر خواهد رفت.
**دوستان** : من بخاطر سعادت و آرامی بشریت با نیت واراده پاک سالها رنج و زحمت کشیدم ، آرامی حیات خویش را وقف آرامی ملت و مردم خویش کردم و افتخار دارم که با ظالمین و تباهکاران نه ساختم !! با وجود اینکه محرومیتها و مشقت های گوناگون را دیدم و تحمل کردم.
بیاید حساب کنیم! من برای خود و اواولادم با مثل دیگران جنت را نه ساخته ام، و نه هم با مثل دیگران قصر ها و خزانه ها دارم !! ولی؛ آنچه دارم ایمان ثابت و بی خلل است؛ با این هم ستمکاران قرن بیست از نیروی من و تو استفاده ناجایز مینماید، در حالیکه مشقت را من و تو متحمل میشویم و از برکت آن عیش و نوش را قدرتمندان دارند. **دوستان** : انتظار تا به چه وقت ؟ هرچند فکر کردم ، امراض اجتماعی را تحت تحلیل خویش قرار دادم ، چاره جز این نیست که بگویم: بیاید دست به الشه نباشید و این سکوت و خاموشی را بشکنید!
بیاید دربین خود بخاطر مصالح ملی توأم با حسن تفاهم و حسن خیر وحدت عمل را به میان آرید.
بیاید اوضاع را با دید و فکر آزاد و منطقی ؛ مورد تحلیل و بررسی همه جانبه قرار دهید.
بیاید بالای عوامل اساسی این وضع تحمیل شده ، بحث و مشورت عالمانه نماید.
بیاید چاره اساسی را برای امراض اجتماعی سراغ نماید.
بیاید به چنان تصمیم قطعی معقول موافقت و متوصل شوید که هیچ قوت اهریمنی به آن غالب نه گردد.
ای فرزندان صالح وطن ! باور داشته باشید ، اگر با حسن نیت و با اراده پاک بخاطر آرامی و سعاد ت وطن و مردم متفق شوید؛ و با معقولیت اوضاع جاری را بررسی و به امراض اجتماعی نخسه های علمی و منطقی تهیه کنید !! در آن صورت وحدت و عمل ایمانی شما ، چاره اساسی تحول این وضع خطیر را کرده میتواند.
ومن الله التوفیق

سعید افغانی کابل ـ افغانستان

په ډېر درنښت : انجنیر عبدالقادر مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیدگاه استاد بزرگوار مـولانا سعید افغانی !

## انجینر سرور « صالح»

2011/22/02

اگر چه نوشتن دیدگاه و یا هم تحقیق در رابطه بزرگ مردان تاریخ ، علـما و دانشمندان و بخصوص پیرامون استاد فرزانه سعید افغانی صاحب ؛ کاریست نهایت دشوارومشکل و ضرورت به تحقیق طولانی و تخصصی دارد .

ولی ؛ با آنهم بنابر ارادت و خلاصمندی که به استاد مرحوم سعید افغانی صاحب دارم ، بدینوسیله قـلم ناتوان و فقیرم را با برداشته و خاطرات و نصایح استاد را که هنوز هـم در فکرم طنین انداز است توام با استفاده از تعداد کتب شان که در دست دارم ، مختصرآ روی صفحه کاغذ بنویسم .

ضمنآ با کمال ادب و احترام آرزومندم تا موسسات اکادمیک و بخصوص سایرشاگردان استاد که استعداد قـلم ونوشتن را دارند،در باب استاد « تحقیق و پژوهیش » را تکمیل و تقویت بخشند .

من بیاد دارم آن دوران جوانی خود را که درسال «۱۳۴۹هجری شمسی » در پولی تخنیک کابل محصل بودم ، و استاد بزرگوار سعید افغانی صاحب با قامت و قد بلند ، دریشی پاک و منظم وملبس با « نیکتای » ،چهره نورانی و با محبت و شادمانی داخل صنف میشد و با صدای رسا توام با نهایت صمیمت، افتخار و دانش عالی که داشت ، مضمون « تاریخ افغانستان و دول متمدن اسلام » را که نوشته جناب بزرگوار شان بود ، به ما تدریس میکرد .

استاد سعید افغانی ؛ شخصیت با کمال ، مربی و رهنمایی دانا و با اعتماد همه بود و همیشه ما محصلین را نیرو وقوت می بخشید تا دقیق بیاموزیم و با متانت وایمانداری درآبادی فردای وطن و خدمت به بشریت سهیم شویم !

استاد سعید افغانی که تمایل به خط و فکرشیخ خواجه عبدالله انصاری « پیر هرات» وعلامه سید جمال الدین «افغانی » داشت ، همواره میکوشید تا جوانان را دلسوزانه هم در راه دین مبین اسلام و هم در راه سیاست رهنمایی و تربیه سالم کند .

ازجانب هم با متانت و علمیت خویش که در شق « **الـهیات و فلسفه**» داشت در صدد بود تا امراض اجتماعی جامعه را به شکل دقیق تشخیص کرده و برای بیرون رفت از آن نخسه های لازمه را ارایه نماید تا باشد که همه نیرو های وطن تحت بیرق خیرخواهانه دین مبین اسلام متحد شده و برای سعادت بشریت خدمت کنند .

جای شک نیست که فعالیت استاد سعید افغانی در سالهای « ۱۳۵۰هـ ش » برای تشکیل اتحادیه استادان پوهنتونها و سوق این روند صنفی بمنظوراشتراک همه نیروها دریک جبهه واحد وطنی، یکی از ارزوهای استاد برای خدمت به سعادت بشریت بود که به این طریق ایشان میخواست تا حسن تفاهم را بین تمام نیروها ایجاد کرده و زمینه حسن خیر و سلم را تقویت بخشد.

روزی با استاد سعید افغانی در دبیارمنت «عـلوم اجتماعی » که خودامـر آن بود، پیرامون وضع جاری وطن و منطقه جرو بحث کردیم و استاد توضیحات عالمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارایه کرد و همیشه تاکید میکرد که حسن تفاهم باید تقویت بخشیده شود و زمینه های اعتماد بین مردمان به وجود آید ؛ در آن وقت امکانات عملی بخاطر کامیابی وطن و مردم مساعد میگردد.

استاد گفت : نباید فراموش کرد که دین همه صالحین و وطنپرستان این است تا همیشه با ایمان راسخ ، با تقوای وپاکی و با راستگاری و توام با علمیت و عمل مترقی و خیرخواهانه ثابت سازند که برای سعادت انسان در این جاده های پر خم و پیچ راهی هستند و در آینده خواهند بود !

در غیراز آن شما جوانان شاهد باشید ! که نه مردم وطن نه هم مردمان منطقه و جهانیان بالای فکر و عمل ما اعتماد و باور نخواهند کرد و آینده پر جنجال و تاریک در پیش روی همه قـرار خواهند گرفت ، که حل آن کار ساده و بسیط نخواهد بود !

استاد همیشه ارام ، خونسرد و منطقی صحبت میکرد ، قوت جلب و جذب و تاثیر گذاری داشت و همچنان سخت میکوشید با دلایل و منطق قوی جانب مقابل را صادقانه و با اخلاص قناعت دهد ، و در راه راست و مستقیم رهنمایی نماید ...

در جریان صحبت از استاد اجازه خواستم تا در رابطه به سوال که در ذهنم گنگ است ، جواب ارایه فرمایند ؟

استاد سعید افغانی عینک های طلایی خویش از چشمان زیبایش برداشت ، در حالیکه تبسم محبت آمیز در لبانش دیده میشد، با نهایت صمیمت گفت :

بچه جان ؛ شما جوانان همیشه حق دارید تا سوال کنید ! اما ؛ خدا کند که توانمندی جواب سوال شما را داشته باشم ؛ بفرماید من سراپا گوش هستم !!

با وجود اینکه حلقم خشکی میکرد که مبدا سوالـم برای استادودیگران جالب نباشد با آنهم تصمیم گرفتم و گفتم :

من میدانم که شما هم استاد و هم داکتر الهیات و فلسفه هستید و از جانب شما همیشه ما جوانان را تشویق خدمت به جامعه و سعادت بشریت مینماید؛ آیا این کاروان مبارزات و خاصتآ حرکت صنفی استادان و محصلان که شما یکی از فعالان آن هستید ، در برابر آرمان وطن مثبت واقع خواهد شد ؟

استاد با لبخند زیبا که همیشه عادت شان بود ، سوالم را تقدیر کرد و چنین گفت : خـدا « ج» ذات توانا و دانا است و با حکمت و علم غیب که دارد از تقدیر و سرنوشت بشریت اگاه بوده و از جانب هـم آن ذات مقدس به بندگان خویش اختیار لازم داده است ، تا از آن بخاطر سعادت خویش و سعادت بشریت استفاده جایز نماید .

فلهذا ؛ من شخصآ به این باور هستم که چون هدف و آرمان ما خدمت به سعادت انسان ، تعالی و ترقی وطن و مردم است ، پس ؛ به یاری و فضل و مرحمت خداوند تعالی و همت شما جوانان و ملت فقیر وطن ما ،حتمآ این کشتی وطنی به منزل مقصود میرسد .

ولی ؛ به شرط اینکه در موقف ایمانی و وجدانی ما خلل و وسوسه ایجاد نشود و نیت و ادارت پاک ما تحت تاثیرات شیطانی قرار نگیرد و از اعتماد مردم استفاده ناجایز نه نمایم ! که در آن حالت هم در دگاه الهی و هم در مقابل اعتماد مردم و هم در نزد وجودان خویش جوابگو خواهند بود !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

گفتم : استاد ! نقش ما جوانان و مردم در آینده وطن چیست ؟
گفت : ذات الهی ! با حکمت خویش این عالم را آفریده و بشر را در زمین به صفت اشرف المخلوفات اختیار لازم داده و پیغمبران و کتب آسمانی را به رهنمایی آنها فرستاده تا با ارشادات از آن به کمال و سعادت برسند و از نعمات زندگی استفاده جایز نمایند .
بنآ ؛ شما بر علاوه انجام دادن دین ایمانی و اسلامی ! ضامن این خاک و اقتدار این زمین و یا این وطن هستید و نقش شما جوانان در تحرک ، آبادی و در آینده وطن حتمی و ضروری است، تا از نعمات آن هم خود و هم یگران استفاده سالم و جایز نمایند .
همچنان به وضاحت باید خاطر نشان سازم که : مردم بدون وطن ، و وطن بدون مـردم مفهوم ندارد و بدون حرکت سالم و منطقی ، برکت و منفعت به وجود نمی آید .
چون شما قشر جوان و اگاه این جامعه هستید مشوره من به شما و همه جوانان این است که در جوانی خوب بیامـوزید ؛ اهـل علم و دانش شوید ؛ و توام با آن با صداقت ، ایمانداری و منطق سالم و سازنده ؛ در کوشش شوید تا باور، اعتماد و تفاهم مردم را بدست بیاورید .
به یقین گفته میتوانم که از یک جانب دین ایمانی خود را انجام داده اید و از جانب هم مردم بالای شما باور کرده و منحیث مدافعان و متخصصین آنها این وطن و این مردم فقیر را از مشکلات نجات داده میتوانید .
صحبت ملایم ، رهنمودی و تشویق کننده استاد سعید افغانی در گوشهایم طنین انداخت و قلبم را قوت بخشید و ...
حقیقت این است که استاد نه تنها یک استاد مضمون تاریخ اسلام بود، بلکه اندیشه وارمان وطنی داشت وبا منطق ودلسوزی میکوشید تا جوانان را به آموزش علم و دانش و خدمت به وطن و مردم مظلوم تشویق و رهنمایی سالم نمایند و .....
دیری نگذشت که استاد افغانی صاحب از جانب مرحوم محمد داود خان که تازه به قدرت ریاست جمهوری رسیده بود، دعوت شد تا در قضآ کشور « وزارت عدلیه» وظیفه تحقق عدالت سالم را به عهده گیرد که به این اساس استاد دیگر فرصت نیافت تابه شکل مستقیم دردرس دادن اشتراک کند و نه هم دیگران این توانمندی را نداشتند تا جای استاد بزرگوار را پر کنند .
دوران محصلی گذشت ، منحیث انجینر جوان به جامعه تقدیم شدم و با هـزاران شوق به کار و بار آغاز کردم و از آنطریق امرار حیات میکردم ، و در پهلوی آن یاد و خاطرات استاد همیشه با من بود و با استفاده از فرصت گاه گاهی که از ولایات به مرکز کابل میامدم ، زمینه را مساعد ساخته به حضور استاد گرامی مشرف میشدم و از نصایح شان مستفید و حظ و لذت میبردم .
آخرین بار استاد برزگوار را در مقر شورای عالی علما و روحانیون افغانستان واقع در « شهرنو ـ کابل » زیارت کردم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرایط روزگار و درد مردم ووطن، استاد را مریض و ناتوان ساخته بود ، ولـی ؛ در مقابل قلب مهربان استاد قوت داشت ، به اوج کمال و جمال رسیده بود ، و کمافی السابق طـرفدار تمایل به قدرت و قدرت داری نبود ، و نه هـم از قدرتمندان طرفداری و اطاعت بیمورد میکرد !!

بلکه با دید و فکر وسیع برای سعادت بشریت می اندیشید و کار میکرد و سخت امیدوار بود که صلح و آرامش به منصب « بی اتفاقی ، خشونت ، وحشت ، ظلم ، ستم ، جنگ و جدل » غلبه کند و زمینه های سعادت بشریت را مساعد سازد.

که به همین دلیل استاد در برابر همه ناملایمات وقت ، استادانه و با ایمان برخورد کرد و تا آخرین رمق حیات خویش برای تنویر آذهان مردم نوشت و بخاطر دفاع از حقوق آنها در خاک خویش و در پهلوی مردم خود قرار گرفت .

مولانا استاد افغانی صاحب ! در جریان صحبت از وضع موجوده عدم نارضایتی کرد ، رای مـوافق به دوام خشونت ، جنگ و برادر کشی نداشت و به وضحات تام برایم گفت:اسلام ؛ دین عشق و محبت و دین صلح و خیر سلم است و از جانب هم توسل با زور و نیزه راه حل نیست و بقا نخواهد داشت !!!

متاسفانه باید با صراحت اظهار کرد که نفوذ و رخنه دستان شیطانی ؛ به تفاهم ، تعقل و منطـق اجازه اولیت نمیدهد ، بلکه زمینه به اقتدار رسیدن را با ریختن خون انسان ، مفید تلقی مینمایند !

مـن به این عقیده هستم که: وظیفه ایمانی و وجدانی اولاد صالح این وطن است تا وسایل وزمینه های حسن تفاهم را بخاطر تحقق صلح و آرامش تقویه بخشند .

در غیر از آن ، اگر دامنه خشونت و نفـاق تشدید و توسعه یافت ؛ در آن صورت به نفع مردم افغانستان و حتی مردمان منطقه و جهان نیست و خاصتآ این ملت فقیر و بیچاره وطـن ، در اتش بی نفاقی خـواهند سوخت که خاموش کـردن آتش فتنه، کار نهایت دشوار و پیچیده خواهند بود .

چون وضع صحی استاد خوب نبود ، نخواستم که مـدت طولانی مزاحم شان شوم ، از حضور مبارک شان اجازه طلب کردم و ایشان که به دید نم و صحبت با من سخت خوشحال بود ، من را در آغوش گرم کشید ، یکتعداد از کتب خویش را که در آن دو جلد کتاب تحقیقی در رابطه تصوف « **خواجه عبالله انصاری و ابوعلی سینا** »شامل بود ، برایم بشکل تحفه داد و تقا ضا کرد که دروازه دفترش به رویم باز است و همیشه نزدش مراجعه کنم ، که من قلبآ از ایشان تشکر کردم و با خدا حافظی ، از دفتر شان خارج شدم .

در جریان راه که هنوز هم در چرت صحبت عالمانه استاد بودم ، با خود گفتم :

آفرین با این بزرگ مردمان تاریخ ، با وجود اینکه که در حالت ناتوانی جسمی رسیده اند ، ولی ؛ هنور هـم دل و افکار شان زنده است ؛ و هنوز هم در فکر خدمت به مردم هستند و هنوز هم برای تامین صلح و آرامش کار و تلاش میکنند و صادقانه و بدون حراص برای بیداری آذهان مردم مینویسند و وعظ میکنند.

**یاد استاد بزرگوار، گرامی باد**

**انجینر سرور « صالح » فبروری ۲۰۱۱ میلادی ـ استرلیا**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**